pashto

UNHCR
United Nations High Commissioner for Refugees
Haut Commissariat des Nations Unies pour les réfugiés

# د پناه غوښتونکی له پاره معلوماتی پانه

ددی پانی هدف دادی چه د مهاجر یا پناه غوښتونکی سره د مهاجرت دادعاو کولو په ترڅ کښی ابتدائی مرسته وکړی.

د کډوالو د علی کمشنری او د هغی د ټولو د کارنو شریک خدمتونه په وړیا ډول کیږی. زمونږ خدمت وړیا دی مهربانی وکړی چه هیچاته پیسی ورنکړی.

د کډوالو علی کمشنری او د هغه د کارنو شریک د کارمند لخوکه د پسی یا کوم بل خواست تاسو نه وشی باید زرترزره د کډوالو عالی کمشنری ته خبرورکړی او دا به ځیړنه وشی.

| د یو مهاجر حقوق | ستاسومسولیتونه دیومهاجریه حیث |
| --- | --- |
| - عادلانه کړنلاره ستا حق دی.<br>- ټول هغه معلومات چه د کډوالو عالی کمشنری ته ورکوی نورڅوک ستاسو د رضایت نه بغیر نه خبریږی.<br>- تاسو د اپیل (بیاکتنه) حق لری کله چه ستاسو ادعا رد کیږی<br>- په استثنائی حالت ستاسوپه کیس کښی کیدی شی سمدستی تصمیم ونیول شی دینه بغیر تاسو مساوی حقوق لری او خپل وار ته به انتظار و کوی. | - دا ډیر مهم دی چه د کدوالو دعالی کمشنری کارمند سره همکاری وکړی.<br>- ټول هغه معلومات چه د کډوالو عالی کمشنری ته ورکونی باید صحیح او بشپړ وی.<br>- ستاسو بیان باید د مبالغی او د ځانه جوړولوخبرو نه پاک وی.<br>- هیچا ته ددی له پاره چه تاسو سره په کیس کښی د کمک یا د کیس د کامیابیدلو وعده ورکوی پسی ورنکړی |

# د کډوالو د عالي کمشنرۍ د مهاجرت معيار

د مهاجر په حيث د قبليدلو له پاره دالاندني حقيقتونه بايد ثابت شي.
1- تاسو خپل د هيواد څخه بايد بهروسي.
2- تينګ بنسټي وير، ځورونه يا تعقب.
3- ستاسو ادعا بايد يو د پنځو دلايلو سره تړلي وي( نژاد – مليت - دين – سياسي نظريه – او يا عضويت د يو خاص ټولنيز يا اجتماعي ډلي سره)
4- خپل هيواد ته د پورتني دلايلو په بنياد بيرته تللي نشي.

که ستاسو کيس د پورتني څلورو دلايلو سره مطابقت وکړي نو کيدشي چه د کډوالو عالي کمشنري د څارني يا حمايت لاندي راشي. مخکي لدي چه د کډوالو عالي کمشنري مرسته غوښتلو له پاره پلټنه وکړي بايد دغه معلوماتي پانه په ډير احتياط سره ولولي او د مهاجرت لپاره درخواست ورکړي.
خبردار وسي چه د مهاجرت ادعاو له پاره هيڅ پيسي ورنکړي.

## ددرخواست ليکنه

اول ګام
لاندي شيان بايد پکښي وليکي:
1- دليل ددي چه تاسو په زور د خپل هيواد څخه استل شوي ياست.
2- څه شي ستاسو د بيرته د تللو مانع ګرځي.
3- ټول حقيقتونه – نومونه – تاريخونه – د ځاينو نومونه چه تاسو پکښي اوسيدلي ياست.
4- که کوم معلومات د هغه هيوادنو په باره کښي چه ستاسو په لاره کښي پاکستان ته د راتګ په وخت کښي تير شوي ياست ورکړي.
5- هر هغه څوک چه ستاسو مربوط يا د کورني غړي وي نومونه ئي ثبت کړي. که اصلي درخواست ورکونکي د مهاجر په حيث د کډوالو د عالي کمشنري لخوا وپيژندل شي نو د هغه د کورني غړي فورا ګته اخستيلای شي.

## ثبت

1.1 ګام
ددی له پاره چه د کډوالو عالي کمشنري سره ځان ثبت کړي بايد پخيله راشي اودا لاندني اقلام(سيزونه) ځان سره راوړي.

1- څلور قطعې پاسپورت سایز عکسونه د ځان او د خپل ټول د کورنۍ د غړو نه.
2- یو درخواست که په لاس لیکل شوی وی یا ټیپ کړی شوی وی په انګریزی یا ستاسو په مورنی ژبه وی. درخواست باید په ډیر خلاصه او د ادعاو لیل په کښې لیکل شوی وی.
3- هر هغه اصلی اسناد لکه پاسپورت – تذکیره – تصدیقونه د ټول هغو د کورنی غړو چه ادعا هغوی پوری مربوط وی.

## دمصاحبه ورکول

**1.2 ګام**

کله چه رسماً د کډوالو عالی کمشنری سره ثبت شوی. تاسو د کډوالود عالی کمشنری یو کارمند لخو به مصاحبه کیږی چه هغه ستاسو ادعا څیړی.
ددی له پاره چه ستاسو ادعا پیاوړی شی تاسو ته لازښونه کیږی چه خپل ټول اسناد لکه تذکیره،پاسپورت،د پوهنتون تصدیقونه او هغه اسناد چه د زندان یا عسکری خدمت یا هر هغه سندونه چه تاسو سره وی تسلیم کړی.
د کډوالو عالی کمشنری په دی خبردی چه کیداشی تاسو نشوای کولای چه ټول خپل اسناد د ځانه سره راوړی. اسناد جمع نه کول باعث د تصمیم ستاسو په خلاف نه کیږی نو کوښښ مه کوی چه جعلی اسناد جوړکړی. جعلی اسناد ستاسو کیس کښی هیڅ مرسته نشی کولای.

<u>یادونه</u>: که تاسو دا احساس کوی چه ستاسو ځان په خطره کښی دی اویا تاسو په زور سره خپل هیواد ته بیرته استول کیږی. تاسو باید سمدستی دمصاحبی غوښتنه وکړی. د ثبتولو په مهال کښی د کدوالو عالی کمشنری تصمیم نیسی چه تاسو سمدستی مصاحبه ته ضرورت لری یا خپل وارته باید انتظار و باسی.

## مصاحبه

**2 ګام**

د مصاحبې کړنلاره په لاندی دول ده:
1- د مصاحبې په ورځ خپل د مصاحبې مکتوب یا د مصاحبې هغه کاغذ ټوټه چه تاسو ته لیږل شوی وی - د ثبت په وخت او یا د کدوالو په دروازه کښی ورکړ شوی وی ځان سره راوړی.

2- د مصاحبې په شروع کښې د کډوالو عالي کمشنرۍ کارمند تاسو ته د کړنلارۍ په باره کښې معلومات ورکوي او ستاسو نه څو سوالونه کوي چه ستاسو د ادعا څېړنه وکړي البته په ښه اخلاقو سره.
3- ښه په حوصله سوالونه ته ځواب ورکړئ.
4- د مصاحبې په پای کښې ځان باید مطمین کړئ چه ټول هغه لازمي معلومات چه باید د کډوالو عالي کمشنرۍ ته ورکړئ ويلي مودي.

## نتيجه

3 گام

ستاسو د درخواست او ورستني مصاحبې په بنياد د کډوالو عالي کمشنرۍ ستاسو د ادعاو په باره کښې تصميم نيسي او تاسو ته ستاسو په ورکړشوي پته کښې د مکتوب په ذريعه خبر ورکوي. په بعضوکرکيچن کيسنو کښې کيداي شي څند راشي.

## که ستاسو ادعا قبول شي

که دکډوالو عالي کمشنرۍ تاسو او ستاسو د کورنۍ غړو د مهاجر په حيث وپيژني:
1- دا ددې معنی نلري چه تاسو سمدستي په دې هيواد کسې يو قانوني دريځ يا موقف پيداکړ.
2- که تاسو قانوني اسنادو لکه پاسپورټ او ويزه سره دې هيواد ته داخل شوي نه ياست ددې هيواد حکومت کيداي شي چه د يو غير قانوني کډوال په حيث تاسو وپيژني.
3- د کدوالو علي کمشنرۍ خپل کوښښونه جاري ساتي چه تاسو د خپل خوښې نه پرته خپل هيواد ته ونه ليږل شي.
4- د کډوالو عالي کمشنرۍ کوښښ کوي چه تاسو ته طويل مدت د حل لارې پيداکړي.
5- د کډوالو عالي کمشنرۍ کوښښ کوي چه دهغه خلکو خيال وساتي چه خپله معزور وي.

**يادونه:** که تاسو د مهاجر په حيث و پيژندل شي يا نه ددې هيواد(پاکستان) قانون تاسو باندې تطبيق کيږي لکه چه په نور خلکو باندې‌تطبيق کيږي. مهرباني وکړئ د قوانينو احترام وکړئ.

## که ستاسو ادعا رد شو

که ستاسو ادعا د اولینی مصاحبی نه ورسته رد شو تاسو ددی دلیل د مکتوب په ذریعه لاسته روړلای شی. دا مکتوب تاسوته د اپیل (بیاکتنه) د نیول شوی تصمیم په خلاف حق ورکوی چه په یو میاشت که دننه دننه خپل اپیل (بیاکتنه) تسلیم کړی. تاسو د اپیل (بیاکتنه) مکتوب اوداپیل فورمی د شارپ له دفتر څخه اخستیلای شی چیرته چه یو کارمند تاسوته د رد کیدلودلیل تشریح کوی او تاسو سره د اپیل (بیاکتنه) لیکنی کښی مرسته کوی. د شارپ کارمند مرسته په وړیا ډول ده.
که تاسو غوښتل چه د نیول شوی تصمیم په خلاف اپیل ورکړی دا کوم خاصه شکل نلری. کله چه اپیل (بیاکتنه) لیکی باید د رد د لیلونه ته توجه ورکړی او حقیقت باندی زورورکړی چه ستاسو په ادعاوکښی ډیر مهم دی. د اصلی دلیل چه څه تاسو مجبور کړی چه خپل هیواد مو پریښود او څه شی مانع کیږی چه خپل هیوادته بیرته نشی تللی. د خپل اپیل (بیاکتنه) اصلی ټکی ولیکی او د ډیرو تشریعاتو نه ځان وساتی.

کله چه تاسو خپل اپیل (بیاکتنه ) د کډوالو عالی کمشنری ته تسلیم کړه که ضرورت ولیدل شو تاسو به د اپیل مصاحبی له پاره وغوښتل شی له دی نه بغیر ستاسو په اپیل (بیاکتنه) پانه تصعیم به ونیول شی.

د اضافی معلوماتو له پاره د کډوالو عالی کمشنری اداری ته په پاکستان کښی په لاندی آدرس ارتباط نیولای شی.

| | | |
|---|---|---|
| UNHCR SUB OFFICE QUETTA<br>PO Box 30, House # 36 B/E, Chaman Housing Society Quetta<br>Tel: +92-81-829368<br>Fax:+92-81-829370 | UNHCR SUB-OFFICE PESHAWAR<br>PO Box 767, House # 1, Gul Mohar Lane, University Town, Peshawar<br>Tel: +92-91-842375<br>Fax: +92-91-842102<br>E-mail:pakpe@unhcr.ch | UNHCR BRANCH OFFICE IN PAKISTAN<br>PO Box 1263, Quaid-e-Azam university Road, Diplomatic Enclave-2, Sector G-4, ISLAMABAD<br>Tel: +92-51-2829502-6<br>Fax: +92-51-2279455<br>E-mail:pakist@unhcr.ch |

# د لارښونو او قانوني مرستو مرکزونه

که تاسو کوم مشکل سره مخامخ شوی کولای شي قانوني مرستي دفترته چه زمونږ د کارنو شریک دی او تاسو سره په وړیا دول مرسته کوی په لاندی پته کښي تماس ونیسي.

| SHARP | | | SACH |
|---|---|---|---|
| H. # 104, Main Double Road, F-10/1, ISLAMABAD | H. # D-837, D-Block, Satellite Town, RAWALPINDI | H. # 11, Muslim Colony, Mainwali | H. # 833, Mian Pir Wadahi Road, Khyaban Stop, I-10/4, ISLAMABAD |
| Tel: 2211740, 2211621 | Tel: 4580896 | Tel: & Fax; 0459-35755 | Tel: 4446178 |